# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده     د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

**يکشنبه، (۷- ۱۰مه) گنه، (سرطان- اسد) گڼې، دربيمه دوره، پرله‌پسې (۳۷۵- ۳۷۸مه) گڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د اسد (زمري) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال، د محرم د مياشتې ۱۳مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د اگسټ ۲۲مه.**


**د اداري يادښت:** د ۱۴۰۰ لمريز کال د چنگاښ او زمري مياشتې (۷- ۱۰مه) گڼې چې په ۱۴۰۰لمريز کال کې يې د چاپ او خپراوي تمه کېده، په هېواد کې د سياسي تحولاتو له امله ځنډېدلې وې، د اسلامي امارت له راتگ سره دا دی تر بيا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

# لېکسيکولوژي




څېړنپوه مولاجان تڼيوال

ژباړه او لنډيز


لېکسيکولوژي د ژبپوهنې دسپلين دی چې ويي پانگه[۱] مطالعه او تر څېړنې لاندې يې نيسي. لېکسيکولوژي د ويي پانگې د ساحو په بېلولو لگيا او له هغه بدلونونو سره بوخته ده چې په ويي پانگه کې رامنځته کېږي. لېکسيکولوژي ډېرې څانگې لري:

د لېکسيکولوژي هغه برخه چې د وييونو معنا او بدلون تر پلټنې لاندې نيسي زيمانتيک[۲] يا سيمانتي يې بولي، د وييونو د اصل يا منشا او پرمختگ په گوته کول د اېتمولوژي[۳] موضوع ده او لېکسيکوگرافي د سيندونو(قاموسونو) د ليکلو چارې پرمخ بيايي.

ويي‌پانگه د يوې ژبې د ټولو وييونو د يو ځای کېدو يا گډون څخه منځته راځي. ويی د يوې يا ډېرو معناوو يو يووالی[۴] دی چې يوه يې له بلې سره په اړيکه کې وي، د اوازونو يو گروپ دی. دا يووالی په گرامري ډول کارول کېږي. معنا د يوه ويي[۵] او د اوازونو گروپ(ترکيب) يې مادي[٦] اړخ دی. د ډېرو وييونو د معنا بنسټ مفهوم دی، خو د مفهوم څخه علاوه معنا هم د خبرې کوونکي يا غږېدونکي تشريحي دريځ جوتوي. Groszmutter[7] او Groszmutterchen په جرمني ژبه کې دوه وييونه دي او دواړه يو مفهوم څرگندوي، خو دقيقاً دواړه هماغه يوه معنا نه لري. د Groszmutterchen ويی هم د Groszmutter ويی راښيي، خو دا ويی په حقيقت کې د ياد شوي شخص پر وړاندې يوه له مينې څخه ډکه يادونه احاطه کوي.

داسې وييونه هم شته چې هيڅ مفهوم نه څرگندوي، خو معنا لري: د معنا څخه پرته وييونه نشته د بېلگې په ډول تړښتي وييونه[۸] او پرېپوزېشنونه[۹] هيڅ مفهوم نه ښکاره کوي، خو معنا لري. هغه څه چې له دې (يادونې) څخه پېژندل کېږي دا دي چې موږ دوی په غونډله(جمله) کې نشو بدلولای. ته[۱۰]، سره،[۱۱] وروسته[۱۲] د مفاهيمو په نخښه کوونکي نه دي، ((خو زه تا ته راځم.))[۱۳] ((زه ستا سره راځم.))[۱۴]، ((زه ستا نه وروسته راځم.))[۱۵] درې جوتې معنا لرونکې غونډلې دي چې د پرېپوزېشنونو د بېلابېلو معناوو پر بنسټ يوه له بلې څخه بېلېږي. موږ دلته غواړو چې د ويي د دواړو اړخونو(معنوي او مادي) په پرمختگ کې دننه د دوی اړيکو ته کتنه وکړو. دلته درې امکانات شته:

۱- د اوازونو کمپلکس په خپل حال (ثابت) پاتې کېږي او معنا خپل ځان بدلوي د ساري په ډول د lege (قانون) ويي په رومانيايي ژبه کې په لومړي سر کې حقوقي معنا درلوده ورپسې يې د دين معنا خپله کړه. وروسته يې دا معنا له لاسه ورکړه او بالاخره اوس د پديدو په منځ کې رښتينې عمومي اړيکې څرگندوي.

۲- د اوازونو کمپلکس تغيير کوي او معنا په خپل حال پاتې کېږي. د بېلگې په ډول په گوتي[۱٦] ژبه کې Fugls په زړه الماني کې Fogal په vogel (مرغه) اوښتی دی، خو معنا يې بدلون نه دی موندلی.

۳- د اوزانو کمپلکس او معنا دواړه تغيير کوي د ساري په ډول Caput ويی په لاتين ژبه کې د ((سر sar)) په معنا دی، خو همدغه ويی په فرانسوي ژبه کې په ((chef)) اوښتی چې د مشر[۱۷]، آمر يا لارښود[۱۸] او رهبر معنا لري.

وييونه (لغتونه) په مجموع کې د غونډلو او د غونډلو د جوړښت د داخلي اتصال په ترکيب کې مختلف گرامري فورمونه قبلوي د Berg[19] ويی د Berges، Berge او Bergen په فورمونو کې تر۳مخ


حمايت الله ښاد


# د مير علي ديوان او د متن معاصره ميتودلوژي

د مير علي ديوان د عبدالروف خان رفيقي په زيار او څېړنه ترتيب او تدوين شوی. په ۱۳۸٦ هـ.ش کال د حبيبي اکاډمي چمن له خوا د ۵۰۰ ټوکونو په شمېر، په کوچنۍ کچه په ۷۱ مخونو کې، په لاهور پريس کې چاپ او خپور شوی دی.

تدوينوونکي د کتاب تر پېژندنې او بسم الله وروسته د دېوان د خطي نسخې پر موندلو او د شاعر پر پېژندنه او شاعرۍ لنډې خبرې کړې دي چې ټولټال د دېوان لومړني اتلس مخونه يې نيولي دي چې دغه برخه يې مقدمه گڼلی شو. ورپسې دېوان چې غزلې او نور شعري فورمونه د قافيې يا رديف کلمې د پای توري له مخې د الفبا په ترتيب له الف څخه پيل او د ځينو تورو په نه لرلو سره په يا (ی) ختمېږي يعنې په هغو غزلو يا شعرونو پيل شوی چې قافيه يا رديف يې په الف توري ختم شوی وي چې د دېوان له نولسم (۱۹) مخ څخه تر يو اويايم (۷۱) مخ پورې مخونه نيسي او په پای کې د ميرعلي يو څو پارسي غزلې هم راغلي دي. مدون د دې ديوان په سريزه کې ليکلي دي: ((په دغه نسخه کې د ميرعلي (۴۹) غزلې،(۴۰) ترکيب بنده، پنځه مربع، يو مخمس او څلور پارسي غزلې دي.))(۱: ٦)

په پورته چاپي ديوان کې ترکيب بند نه ترسترگو کېږي يوازې څو شعرونه په ولسي- وزن کې ويل شوي چې کېدای شي مدون د ترکيب بند گمان پرې کړی وي، خو بيا هم شمېر دومره نه دی، څومره چې ښودل شوی دی.

د متنپوهنې د ارونو له مخې لومړی بايد دا څرگنده کړو چې کوم متن تحقيقي دی؟ هغه متن تحقيقي دی چې د يو يا څو خطي نسخو له مخې د متن د څېړلو پر بنسټ د متن د تصحيح له روش سره سم برابر شوی وي، مقدمه، حواشې، وييپانگه او که اړتيا وه تعليقات هم ولري.(۲: ۱۳مخ )

دا ديوان هم د مدون په څېړنه او زيار تدوين شوی دی، نو تحقيقي متن يې گڼلی شو چې په راتلونکو کرښو کې به څرگنده شي چې څومره يې د تحقيقي متن په څمکه کې مزل کړی دی. د ميرعلي دېوان چې ښاغلي عبدالروف رفيقي تدوين کړی د يوې خطي نسخې له مخې يې مرتب کړی دی، هغه هم هغه خطي نسخه چې له اصلي نسخې څخه يې نقل کړې ده. مدون له دغې خطي نسخې څخه د استفادې په اړه هم بشپړ معلومات نه دي ليکلي، يوازې يې د خپل ملگري سيدجان اخکزي دا وينا راخيستې ده: ((...دغه کتابونه په کندهار کې د حضرت جي بابا سره چا پر درې گزي (پياده لار) ايښي وو او خلک سره پر راکوړه وو را نيول او خرڅول يې دوام درلود، زه هم په کې وگرځېدم، پلنده مې په شاه وه غرمه وه، کور ته تلم، څکه مې په دغه کتابونو کې گرځېدل او لټون چنداني په دقت نه و بس هسې په نيم زړه مې دغه نسخه ځنې راواخيسته.))(۱: ۵ مخ) په دې پسې مدون ليکي ((په هغه نسخه يې نه سوم خبر چې څه يې کړه خو و ما ته يې د هغې نسخې څخه خپله تيار کړی نقل د کتلو له پاره راکړ...))(۱: ٦مخ) متن څېړونکي د همدغې نسخې له مخې چې ده ته ملگري د کتنې لپاره ورکړې وه، دا دېوان يې ترې ترتيب کړی دی.

له پورته بيانه جوتېږي چې مدون د يوې نسخې له مخې دغه دېوان ترتيب کړی او لاس ته ورغلې نسخه يې کټ مټ راخيستې ده، د متن څېړنې د ارونو له مخې که چېرته ډېرې نسخې نه وي، د متن اصول دا ايجابوي چې د يوې نسخې له مخې متن تدوين شي؛ خو هلته بيا مدون ته پکار دي چې له قياسي روش څخه گټه واخلي. د مير علي دېوان له همدغې نقل نسخې څخه ترتيب شوی، که چېرته هاغه وخت مدون خواري کړې وای ښايي نورې نسخې يې ۳مخ


څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي


# د وکيل محمد گل خان مومند علمي- ادبي شخصيت او فرهنگپالنه

د هر چا پېژندنه د ژوندانه په سفر او ډگر کې د هغوی د علمي، فرهنگي، ټولنيز، ملي، سياسي او... دريځ او د کړنو د څرنگوالي او څومره والي له مخې کېدای شي. په هره ټولنه او هېواد کې ډېر داسې معمولي اشخاص يا وگړي وي، چې د پېژندنې، يادونې او ستاينې لپاره يې يوازې څو ټکي، جملې، کرښې او يا پراگرافونه بسنه کوي، خو په وړاندې يې بيا داسې وگړي او افراد هم وي چې شخصيت يې له گڼو اړخونو برخمن او په خپل له ثمره ډک ژوند کې يې په بېلابېلو علمي، فرهنگي، ملي، ټولنيزو او د ولسي ژوند په بېلابېلو برخو کې داسې ارزښتناکې کړنې، برياوې او لاسته راوړنې لرلې وي، چې نه يوازې هغوی، د هغوی کورنۍ، قبيله، قوم، ولس او هېواد؛ بلکې د سيمې او نړۍ د هېوادونو په کچه پرې بشريت او انساني تاريخ وياړ کولی شي.

زموږ د هېواد د معاصر تاريخ په علمي- فرهنگي، ملي او ټولنيزو ډگرونو کې يو له دغسې وگړو څخه وزير محمد گل خان مومند (۱۲٦۳- ۱۳۴۳ل) دی، چې شخصيت يې له گڼو اړخونو برخمن دی.

ما يې د گڼ اړخيز شخصيت خبره وکړه، که يې د شخصيت له بېلابېلو اړخونو (علمي- فرهنگي، سياسي، ملي او ټولنيز) څخه يوازې دلته د علمي- فرهنگي او ادبي شخصيت يادونه پر ځان لازمه وگڼم، نو ويلی شم چې مومند بابا سربېره پر دې چې د هېواد وتلی او منلی ملي سياسي، پوځي او ټولنيز شخصيت و، پياوړی عالم، فاضل، اديب او فرهنگپال هم و، چې په دغو پورته ټولو يادو برخو کې يې د پوځي بولندوی، نظامي جنرال، تنظيمه رئيس، د کورنيو او دربار په چارو کې د دولت وزير، د لويې جرگې د رياست مرستيال په توگه هېواد او خلکو ته د يادونې او ستاينې وړ خدمتونه کړي دي، خو دا چې زه يې دلته يوازې په علمي- فرهنگي شخصيت ۲مخ

# د مقالې ليکلو لارې چارې

لسمه برخه




ليکواله: مېرمن رياحي

څېړنيار فضل الرحمن عليزی

ژباړه


## نهم گام

## د مقالې د پايلې د ليکلو برخه

د مقالې دا برخه يوه ساده او توصيفي برخه ده، چې له ازموينې يا ازمايښتونو څخه د تر لاسه شوو پايلو بيان ته ځانگړې شوې وي. د دې برخې تر ټولو مهم هدف، د مقالې موندنې دي يا په مقاله کې تر لاسه شوې پايله بيانېږي. په دې برخه کې معمولاً پر دوو مسايلو باندې خبرې کېږي:

لومړی دا چې تاسو بايد په مقالې کې د ازمايښتونو يو ټوليز تصوير وړاندې کړئ، البته پرته له تکراري خبرو؛ يعنې له داسې خبرو څخه بايد ډډه وشي چې هغه د مقالې په سريزه او يا هم نورو برخو کې شوې يې، تکراري خبرې بايد پکې را نه وړل شي.

دويم دا چې لاسته راوړنې وړاندې کړئ؛ خپله پايله بايد د تېرې شوې زمانې په جملو کې وړاندې کړئ، يعنې په دې برخه کې بايد تر ډېره له تېرې زمانې څخه کار واخيستل شي. البته دا کار تر ډېره اسانه او ساده نه دی، لاسته راوړنې څه ډول بايد وړاندې شي؟ پايلې بايد د ازمايښتونو له يادښت سره د مقالې د پايلې په برخې کې په سم او دقيق ډول وړاندې شي.

تر ټولو مهم دا چې د مقالې د يوې مهمې برخې يا يوې بېلگې يادونه دې دلته په تکراري ډول راوړل شي. دا خبره چې تاسو د يوې مقالې يوه مهمه برخه پرته له کوم توپيره سل ځلې تکرار کړئ، کېدای شي چې د يوې ځانگې د ځانگوال(متخصص) لپاره په زړه پورې او جالبه وي، مگر ځينې پوهان او لوستونکي تر ډېره د موضوعاتو لنډيز ته لومړيتوب ورکوي؛ يعنې دوی غواړي چې په ډېر لنډيز سره په لاسته را غلې پايله باندې ځان خبر کړي او يوازې هغه برخه يې ولولي.

اړينه نه ده چې په مقالې کې را غلې ټول معلومات دې د پايلې په برخه کې وړاندې شي. دا برخه بايد يوازې او يوازې په سرليک پورې اړوند موضوع په ځان کې را ونغاړي. د راپور د پايلې د بيان په ترڅ کې د ازمايښ لپاره چې کومه فرضيه وړاندې شوې ده، د هغې د تاييد او يا هم رد خبره مهمه ده. دلته بايد د هغې فرضيې او يا فرضيو د تاييد او يا رد په اړه معلومات ورکړل شي.

**د مقالې د پايلې په برخه کې د عددونو او شمېرو د وړاندې کولو څرنگوالی**

که چېرته يوازې يوه يا څو شمېرې وړاندې کېږي، نو هغه بايد په توصيفي ډول په متن کې وړاندې شي، خو که شمېرې يا گڼې له يوې يا دوو څخه ډېرې وي، نو هغه بايد د جدول يا گراف په بڼه وړاندې شي. که تکراري شمېرې وړاندې کېږي هم، هغه بايد معنا لرونکې او روښانه وي. د بېلگې په ډول، د آزمايښ يوه ځانگړې ډله تر څېړنې لاندې نيول شوې ده، نو په دې کې تر ټولو هغه څه را وړل کېږي چې هغه په شمېرو باندې اغېزه لري او هغه بايد په متن کې وړاندې شي، نه په جدولونو او گرافونو کې؛ يعنې د دغو شمېرو لپاره لازمه نه ده چې ليکوال دې ځانگړی جدول جوړ کړي، څکه هغه په متن کې هم بيانېدلی شي. که چېرته له آزمايښتونو څخه منفي پايلې تر لاسه شوې وي هم بايد د آزمايښ شرايط دې ياد کړل شي، کېدای شي چې يو بل څوک په دې برخه کې بيا څېړنه يا ازماينه وکړي او تر بېلو شرايطو لاندې بله پايله ۲مخ

دریمه دوره
یکشنبه
(۷- ۱۰مه) ګڼه، (چنګاښ- زمري) ګڼې
پرله پسې (۳۷۵- ۳۷۸مه) ګڼه
۱۴۰۰ د زمري ۳۱
۱۴۴۳ د محرم ۱۳
۲۰۲۱ د اګسټ ۲۲

لیکوال: پروفیسر انور جمال
ژباړه: نازو کمال




## ۲۱. ایمیجري (Imagery)

دغې اصطلاح ته انځورونه یا تمثیل هم وایي. په ادبي اصطلاح کې د ښکلاییزې کره کتنې کلمه ده. ادیب (لیکوال یا شاعر) د الفاظو په وسیله د هغو کیفیتونو انځور یا تصویر وړاندې کوي، چې په ذهني تجربو کې یې رامنځته کېږي او په بهرنۍ نړۍ کې یې هیڅ تصویر موجود نه وي. دلته تخیل دوه اړخیز کار کوي، یعنې لیکوال د تخیل پر مټ رامنځته کړ او لوستونکو هغه د تخیل په مرسته حس او درک کړ. ټي ایس ایلیټ لیکي: ایمیجري په شاعرۍ کې یوازې له مشاهدې سره تړاو نه لري، بلکې یوه ډېره عادي اشاره هم ژوندۍ، متحرکه او لویه ایمیجري یا انځورونه رامنځته کولی شي.

## ۲۲. اوپیرا (Opera)

منظومې غنایي ډرامې ته اوپیرا ویل کېږي. یعنې داسې منظومه ډرامه چې مکالمې یې نظم او د موسیقۍ په شکل کې ویل کېږي. په دې معنا چې په اوپیرا کې نظم او غنا دواړه اړین دي. اوپیرا پخوا په یونان او ایټالیا کې تمثیل کېدې، خو په ننني بڼه پیل یې په ۱۶۰۰م کال کې په ایټالیا کې شوی دی.

## ۲۳. پیرایه

د بیان طرز یا طریقې ته پیرایه ویل کېږي. پیرایه داسې ناڅاپي بیان دی چې ادیب یوه موضوع په ځانګړي ډول څرګندوي. اسلوب، آهنګ او پیرایه څه نا څه سره ورته دي او زیاتره دا اصطلاحګانې په یوه معنا استعمالېږي، خو یوازې یو دقیق نقاد یې په توپیر پوهېدای شي، ځکه که دغه اصطلاحګانې په مترادف ډول استعمال شي، ستونزې رامنځته کوي. اسلوب یو جلا او مستقل نوعیت دی، چې په مسلسل ډول د یوه لیکوال یا ادیب په هنري تجربو کې څرګندېږي. آهنګ بیا د هنري ټوټې د عناصرو داسې ترتیب او اړون دی چې د ادیب د بیان کیفیت او اغېز ترې جوتېږي.

## ۲۴. پاراګراف (Paragraph)

د کومې نثري لیکنې تر عنوان لاندې داسې برخه ده، چې تر هغې وروسته بله برخه پیل شي، پاراګراف ورته ویل کېږي. د کومې موضوع په منځ کې د یوې ځانګړې برخې د څرګندولو وړه هڅه ده.

## ۲۵. تأثر (Impression)

هغه احساسي اغېز چې لوستونکي او اورېدونکي یې د کومې هنرې لیکنې په لوستو او اورېدو سمدلاسه خوښه کړي، تأثر ورته ویل کېږي. د یوې هنرې لیکنې د ایجاد اصلي هدف هم همدا اغېز دی. هنري لیکنه لومړی اغېز پیدا کوي، چې دا اغېز ډول ډول کېدای شي.

## ۲٦. تارید

په لړ بدلون د بلې ژبې د وییونو کارولو ته تارید وایي او تارید شوي ویي ته بیا مورد ویل کېږي. تارید کوم جلا، مستقل یا څرګند اصول نه لري، دا چې ټول یې ومني، همدا یې معیار دی. د فارسي، اردو، انګلیسي او نورو ژبو د ډېرو کلمو حرکات یا ځینې توري بدل او مورد شوي دي، چې د ادبیاتو د برخې ځانګړې زېرمه او پانګه ګڼل کېږي.

## ۲۷. تألیف (Compilation)

پر یوې ځانګړې موضوع د بېلابېلو ادیبانو او شاعرانو د لیکنو راټولولو او ترتیب ته تالیف وایي. په دې معنا چې د خورو ورو اجزاوو ډلبندي ده. او جوړونکي ته یې مؤلف ویل کېږي.

## ۲۸. تاویل (Interpretation Description)

د معقول دلیل پر اساس له کومې خبرې، لیکنې یا شعر څخه د داسې معنا راویستل چې د لیکنې یا شعر له ظاهري بیان یا ظاهري شکل څخه نه اخیستل کېږي، تاویل ورته وایي. په تاویل کې د اختلاف او فکر ورکولو ځای شته. اړینه نه ده، چې زما له تاویل سره دې بل کس همنظره وي. جوته خبره ده چې د هرې ادبي لیکنې تر شا ډېرې نورې خبرې هم وي، چې د هغو تاویل په خپل ځای مهم دی.

## ۲۹. تبصره (Review)

د کوم تخلیق یا تألیف په اړه د خپل نظر ورکول، همدارنګه د شکلي او معنوي ښکلاوو یا ستونزو څرګندولو ته تبصره وایي. تبصره له کره کتنې سره توپیر لري، په دې کې موضوع، د کتاب ارزښت او د هغه بیروني ښکلا او عیب بیانېږي. ډېری کسان تبصره کره کتنه بولي.

رحیم الله حریفال

## باراني شپه

شپه باراني وه، له باران سره تونده سیلۍ هم ملګرې وه، د ناوې شرهار او کړکۍ ته د ټک وهل شوي پلاستیک غږ د رسول خان خوب په غرونو کړ، لټ په لټ واوښت، خو سترګې یې سره ورنغلې، په ځای کې کښېناست، څو سرې ساه‌ګانې یې واېستلې، بېرته اوږد وغځېده. زړه یې غوښتل چې وژاړي او خپل زړه تش کړي، خو په کوټه کې په خواره خوب ویده ماشومانو ته یې پام شو. خپلې چیغې یې ونیولې، ولې د اوښکو مخه یې ونشوای نیولی، ښه ډېر یې وژړل. عجیبه شپه ده، د رسول خان په زړه کې یو خوږ درد غزونې کوي، له کلي نه تر راتګ وروسته دا لومړی وار و، چې له درد نه یې خوند اخیسته او یو ډول د سکون احساس یې کاوه.

رسول خان ته دې باراني شپې او د شمال آواز د خپل کلي او په خپل کور کې د آرامۍ وختونه ور په زړه کول او کله- کله به په خیال کې کلي ته ولاړ، د کلي له خیالي منظرې څخه به یې خوند واخیست، له ځان سره به یې وویل: اوس به په کلي هم بارانورېږي او کنه؟ حتما به ورېږي، ځکه دا د پسرلي بارانونه دي، د دې بارانونو لمن ډېره پراخه وي. آه! کلی به څنګه تش وي، نن شپه به د ورېځو سره یو ځای زما د کلي ونې او کوڅې هم اوښکې تویوي، د کلي جومات به څنګه حیران او یوازې ولاړ وي، ها چې د ماښام په لمانځه کې به په مسجد کې ځای نه کېده، اوس به خالي جومات په خپلو مقتدیانو پسې اوښکې تویوي. هو رښتیا د کلي کوڅو او بامونو ته به هم موږ ور یادېږو او کنه؟! آه! دا د جګړې بلا زموږ له معصوم وطن نه څه غواړي؟ لویه خدایه تاته په عاجزۍ لاسونه اوچتو، او عزتمنده سوله درنه غواړو، اوږدې او ترخې جګړې رانه هرڅه لوټ کړي دي.

## د مومند بابا...

خبرې کوم، نو وایم چې همدا علمي- فرهنګي شخصیت یې هم څو خواوې لري:

په دیني او ادبي علومو کې زیاته پوهه یې په لیکنو، څېړنو، ویناوو او بحثونو کې چې علمي ادبي معلوماتو او د قوي استدلال او منطق په ګاڼه پسوللي وو زبات ده، چې دا موږ ته د هغوی د لوړ علمي ادبي شخصیت ښه او پوره استازیتوب او څرګندویي کولی شي. راپاتې څو شعرونه یې موږ ته هغوی د یو شاعر په حیث هم راپېژندلی شي، پیاوړی ژبپوه او څېړونکی او په نثري لیکنو کې د ځانګړي سبک څښتن لیکوال چې پښتو سیند (په دوو ټوکونو کې لومړنی بشپړ قاموس) ۱۳۱٦ل چاپ، د پښتو ژبې لیار(صرف او نحو) په خپل وخت کې د پښتو ژبې لومړنی بشپړ ګرامر ۱۳۱۷ل چاپ، لنډکی پښتو- پښتونواله ۱۳۲۷ل کال چاپ، د پخلي کتاب (ناچاپ) سربېره پر دې په خپل وخت په چاپي رسنیو کې چاپ مقالې او شعرونه یې هم زموږ پورته خبره زباتولی شي.

د تکړه ژورنالیست په توګه یې په اماني دوره کې د هېواد په لومړۍ پوځي مجله (مجموعهٔ عسکري ۱۳۰۰ل) کې د مسئول مدیریت چارې سمبالولې او د کورني اړ و دوړ پر مهال (۱۳۰۷ل) د سید حسن خان حسن په ملتیا د ننګرهار په خوږیانو کې ((د کور غم)) اخبار خپرول هم زموږ خبره ښه سپینولی شي. او د علمي- فرهنګي شخصیت تر ټولو سترې او مهمې برخې فرهنګپالنې د یادونې او ستاینې لپاره یې د بېلګې په توګه د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختیا په معاصر غورځنګ کې د یو مقتدر او ځواکمن لوړ پوړي دولتي، ملي او ولسي چارواکي په حیث ډېره ستره ارزښتناکه او اغېزناکه ونډه لرلې وه، چې زموږ په تېر څو زره کلن تاریخ کې تر خوشحال بابا او بیا به کندهار کې د هوتکي دربار له واکمنو وروسته، دی لومړنی پښتون مشر او چارواکی دی چې د خپل لوړ ملي احساس او فرهنګپالنې له مخې یې د خپلو خلکو د ملي هویت د پېژندنې او د ژبې او ادب د ودې او پرمختیا لپاره یې په شعوري توګه عملي هلې ځلې کړي، چې لا تر اوسه یې ساری نه دی لیدل شوی.

لومړی ځل په ۱۳۱۱ل کال په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن او په ۱۳۱٦لمریز کال په کابل کې د پښتو ټولنې (پښتو اکاډمي) ترجوړېدو، د پښتو ژبې او ادب خدمت ته د لیکوالو، شاعرانو او څېړونکو راټولولو، هڅولو، روزلو او چمتو کولو، په ملي دولتي کچه په هېواد کې پښتو ژبې ته د یوې ملي او رسمي ژبې د هویت او حیثیت ورکولو او د پوهنې د نظام او نصاب د پښتو کولو لپاره په یادو علمي او عملي هلو ځلو او بریالیو هڅو کې تر هر چا مخکښه او اغېزناکه ونډه، زموږ د هېواد د فرهنګ په تاریخ کې دا ستر ویاړ یوازې د همدې نومیالي فرهنګپال شخصیت په برخه کړی دی.

د خپلو خبرو د پایلې په توګه په داډ او باور سره ویلی شم، نه یوازې دا چې د ارواښاد مومند بابا دغه فرهنګپالنه به د هغوی د نورو ملي، پوځي، سیاسي او ټولنیزو ویاړنو کړنو په څېر د تل لپاره زموږ د هېواد د معاصرو ملي، فرهنګي- ادبي تاریخونو په پاڼو کې په زرینو کرښو لیک وي، بلکې دوی به د خپلو ملي، سیاسي، پوځي، ټولنیزو، په ځانګړې توګه د فرهنګپاله کړنو، علمي، ادبي لیکنو او ژبنیو څېړنو له برکته زموږ د اوسنیو او تر پېړیو پېړیو راتلونکو نسلونو په زړونو کې ځای ولري.

## د مقالې لیکلو لارې...

تر لاسه کړي. په دې برخه کې هم باید د پایلو د توصیف په برخه کې معنا لرونکې شمېرې را وړل شي.

**د پایلو د واضح کولو لپاره هڅه کول**

پایله باید لنډه او خوشحاله کوونکي وي. که څه هم د پایلې برخه تر ټولو مهمه برخه ده، خو باید تر ټولو لنډه وي. که څه هم تر دې مخکې د موادو او میتود برخه او د مقالې اصلي متن په ښه ډول سره بیان شوی وي. د مقالې لومړۍ برخه (سریزه، مواد او میتودونه) ستاسو د پایلې د تر لاسه کولو د څنګه‌والي او څرنګوالي لپاره مخکې له مخکې طرحه کېږي، د مقالې اخري برخه (بحث) د مقالې متن ته د معنا لپاره طرح کېږي، نو پر دې اساس د مقالې د پایلې برخه باید مشخصه، ټولیزه او معتبره وي او مقاله پایته ورباندې رسېدلې وي. د مقالې د پایلې برخه باید په پوره واضح او روښانه ډول وړاندې شي. د پایلې برخه باید ځانګړې او ساده ډول بیان شي، ځکه چې دا پایله ده چې تاسو پکې نوي او تازه معلومات نورو ته وړاندې کوئ.

**له ډېرو خبرو څخه باید ډډه وشي**

کوښښ دې وشي د مقالې د پایلې په برخه کې له بېځایه او تکراري خبرو څخه ډډه وشي، ځکه تر ټولو لویه تېروتنه د مقالې د پایلې په برخه کې تکراري خبرې را وړل دي، یا هغه خبرې راوړل شي چې هغه مخکې له مخکې په متن کې د جدولونو او انځورونو له لارې لوستونکو ته واضح شوي وي او دویم ځل راوړلو ته یې اړتیا نه وي.

**د پایلې د لیکلو په برخه کې مهم ټکي**

۱. په لومړي سره کې باید د معلوماتو د راټولولو په برخه کې لارې چارې وښودل شي او له هغه وروسته دې د راپور پایلې یا پایلو باندې خبرې وشي.

۲. په دې برخه کې باید د موادو او میتودونو په اړه خبرې ونه شي، ځکه چې مخکې یاده برخه واضح شوې ده.

۳. د معلوماتو هره برخه چې واضح شي، د پایلې په برخه کې مهمه وي، په ځانګړي ډول د آزموینو اندازه، د معلوماتو ارزښت، اغېزې او احتمالي کچه؛ دلته د شمېرنې په برخه کې فرمولونه او د خامو موادو یادونه اړینه نه ده.

۴. که چېرته د لاسته راوړنو په برخه کې له پېچلو لارو چارو څخه ګټه اخیستل شوې وي، باید په لومړنۍ کرښه کې یې د تیورۍ په اړه په لنډه توګه یادونه وشي، تشریح دې شي او د هغې د کارونې لامل دې وښودل شي.

۵. که چېرته له معلوماتي لارو څخه ګټه اخیستل شوې وي، چې د ټولو په اختیار کې نه وي یا نور ورته لاسرسي نه لري؛ د لوستونکو لپاره دې توضیح شي، چې له کوم ځای څخه یې تر لاسه کولای شي او څرنګه کولی شي د هغوی په اړه معلومات تر لاسه کړي.

٦. د ډېرو شمېرو د یادونې پر ځای دې، په منځنۍ کچه له شمېرو څخه یادونه وشي، وروسته کولای شي، چې اصلي معلومات مشخص کړي.

۷. د پایلې د لیکلو په برخه کې دې له اوږدو او تکراري جملو څخه ډډه وشي. د پایلې په برخه کې متن، جدولونه، انځورونه، شجرې او داسې نور شاملېږي.

۸. د جدولونو او د انځورونو لاندې لیکل شوي متن باید په ځانګړي ډول مفهوم ولېږدوي او د لوستلو په برخه کې یې لوستونکی لار ورکی نشي چې متن ته مراجعه وکړي. له دغسې جملو څخه، لکه: ((د A ازموینې څخه د تر لاسه شوې پایله په لومړي جدول کې وړاندې شوې ده)) باید ډډه وشي، پر ځای د دې دې داسې جملې ولیکل شي: ((د A ازموینې د ګټې اخیستنې په برخه کې ۵٪ پایله تر لاسه شوې ده، ۱ جدول.))

۹. د پایلې برخه د فرضیو د لیکلړ له مخې ترتیب کړئ، کوښښ وکړئ چې پایله واضح وي، د متن له غیر ضروري معلوماتو، انځورونو او جدولونو له راوړلو څخه ډډه وکړئ.

۱۰. د جدولونو ګټه دا ده چې پایلې په دقیق، لږ ځای او لنډیز سره وړاندې کوي او په اسانۍ سره د معلوماتو له جدول سره سمون ورکول کېږي.

۱۱. که چېرته د پایلې بیان د متن په څو جملو کې په اساني سره وړاندې کېدای شي، نو د جدولونو او شکلونو راوړلو ته اړتیا نه شته.

۱۲. د پایلې د بیان لپاره دې کوښښ وشي چې د فرضیې تایید او یا هم نه تایید روښانه شي، ځکه دغه ځای د موندنو د بیان لپاره نه دی.

۱۳. یوې مجلې ته د مقالې د لېږلو په برخه کې غوره دا ده چې جدولونه، شکلونه او انځورونه د متن په داخل کې را نه وړل شي، بلکې په متن کې دې د هغوی ځایونه مشخص شي او په ځانګړو پاڼو کې دې ورسره ونښلول شي.

## لېکسیکولوژي...

سترګو کېږي. د Sehen[20] ویی په Sehe، Sieht، Sah، Werde Sehen، gesehen بـانـدې اوړي. د ګرامري فورمونو په کومک سره د یـوې غـونډلې د وییونو په منځ کې اړیکې، د موضوع تـوپـیرونـه او داسې نور ښکاره کېږي. ګرامري فـورمـونـه پـه ټـولـه (مجموع) کې د وییونو اساسي معـنـا نـه بـدلـوي. وییونه د جوړولو مواد دي، د دې موادو پـه مـرسـتـه پښویه غونډلې او د غونډلو داخلي ترښت جوړوي. له دې څخه د ویيپانګې، د ژبـې د نـورو بـرخـو او د ګرامري جوړښت په منځ کې ټینګ ارتباط رامـنـځـتـه کېږي. ویي پانګه هم د ګـرامـر یـا پـښـویـې غـونـډې Abstrakt کرېکټر لري خو د Abstraktion درجـه په ټولو وختونو او ټولو ژبو کې یوه یا یوشـان نـه ده. ویي پانګه له پیله کانکرېټ وه، څکه فـکـر هـم لا د Abstraktion هیڅ ستر توان نه درلود. پـه لـومړي سر کې انسانانو نشول کولای چې د مـوضـوعـاتـو د خواصو یا خاصیتونو څخه پرته د نورو خاصیتـونـو یـا خواصو په اړه هم فکر وکړي له همدې کبله یوه نـوم یو Objekt او د هغه تر سترګو کېدونکی خاصیت پـه نخښه کـاوه، یـوه ویـي د سـاري پـه ډول Blauer Himmil د شـنـه اسمان او یـوه بـل ویـي Tiefe Grube د ژورې کندې معنا درلـوده او داسـې نـور، هغو انسانانو چـې د Abstraktion تـوان یـې نـه درلوده دا هر څه یې سم د لاسه او په پیل کې نه دي ترلاسه کړي چې د پدیدو خاصیتونه وپېژني رښتیـنـې نخښې نښانې ترتیب او Abstrakt مـفـاهـیـم جـوړ کړي.

تر ننه پورې داسې وروسته پاتې ولسونه شته چې د آس لپاره هیڅ ویی نه لري خو د تـور آس، چـالاک انسان[۲۱]، سپین آس[۲۲]، نیلی او داسې نـورو لـپـاره وییونه لري. د شمالي امریکا د انډیانر د Irokese پـه قبیله کې د Kutuwo په نوم یو ویی شته او معنا یـې ((زه څان مینځم)) ده. نور وییونه ((زه مـې لاسـونـه مینځم))[۲۳]، ((زه یو ماشوم مینځم))[۲۴]، ((زه غوښـه مینځم))[۲۵] او داسې نور دي. مګر داسې یو ویی چـې هغه دې په مطلق[۲۶] ډول ((مـیـنـځـل)) وبـلـل شي نشته. دا د دې معنا لري چې د یادې شـوې قـبـیـلـې خلک لا په دې نه دي توانېدلي چـې یـو Abstrakt مفهوم ((مینځل)) جوړ کړي، په کومه کچه چې یـوه ژبه پرمختلونکې وي او د Abstrakt مفاهیمـو لـپـاره ډېر وییونه په واک کې ولري په هماغه کچه یـې ژبـه هم ابستراکټه وي. زموږ ژبې د عمومي معنا له پـلـوه یواځې د آس ویی نه لري، بلکې نور وییونـه لـکـه "د بوټو او نباتاتو خوړونکی"[۲۷]، "تی رودونکی حیوان"[۲۸]، ژوی[۲۹] او داسې نور چې Abstrakt مفاهیم ښکاره کوي هم لري.

په همدې ډول په موډرنو ژبو کې هم د ویـیـونـو د Abstraktion په درجه کې څینې توپیرونه شتـه پـه روسي ژبه کې د Sutki په نوم ویی شته او د وخـت یوه برخه (څلرویشت ساعته) چې د شپې او ورځې د جمع کېدو څخه لاس ته راځي پـه نښـه کـوي، خـو رومانیایي او جرمني ژبې دا ډول هیڅ ویی نه لري. نن ورځ په جرمني ژبه کې د ((تللو)) د ډول لـه مـخـې بېلابېل لغتونه (وییونـه) شـتـه؛ لـکـه fliegen (د الوتکې په وسیله سفر کول)، fahren (د موټر، رېل، بېړی، بایسکل او نورو په واسطه سفر کول)، reitin (د آس څغلول، سواري کـول)، gehen (تـلـل). پـه منځنۍ جرمني[۳۰] کې د تللو د ټـولـو ډولـونـو لـپـاره fahren معمول او مروج و. په څینو ټکو یا برخو کې وروسته پاتې کـېـدل د Forschritt[31] پـه واسـطـه جبران شوي دي.

**یادونه:** پاسنی موضوع مې د Einfuehrung in die Sprchwiss نومي اثر څخه را ژباړلې او لنډه کړې ده.

۱. Lexik (د یـوې ژبـې یـا د یـوې مـشـخـصـې ژبـې ویيپانګه)
۲. Semantik
۳. Etymologie
۴. Einheit
۵. Ideell
۶. Materiell
۷. Groszmutter په جرمني ژبه کې نیا یا انا ته وایي. Groszmutterchen یې Kose form دی. د دې یادونې معنا دا ده چې د مینې یا ګرانښت له مخې یو څوک یو چا ته داسې نوم اخلي لکه په پښتو ژبه کې د زړه پـر څـای زړګی او د ادې پر څای ادکه.
۸. Konjunktionen ۹. Praepositionen
۱۰. Zu ۱۱. mit
۱۲. nach
۱۳. ich Komme zu dir
۱۴. ich Komme mit dir
۱۵. ich Komme nach dir
۱۶. gotisch ۱۷. Leiter
۱۸. Fuehrer
۱۹. Der Berg غره ته وایي.
۲۰. Sehen فعل دی د لیدلو معنا لري.
۲۱. Fuchs ۲۲. Grauschimmel
۲۳. Takasula ۲۴. Tseyuwu
۲۵. Kewela ۲۶. Shlicht
۲۷. Pflanzenfresser ۲۸. Saeugetier
۲۹. Tier
۳۰. Mittelhochdeutsh، د ۱۲- ۱۵ پېړی پورې ژبه
۳۱. ډېر پرمختګ.

## د میر علي دیوان...

هم موندلې وای؛ خو له دغې نسخې څخه اسـتـفـاده یې هم بې ګټې نه ده. مدون د دېوان په مقدمـه کـې خپل روش نه دی معرفي کړی او په دودیز ډول یې د نورو د کار په تعقیب او پیروی او یا په خپل ذوق کار بشپړ کړی او دیوان یې تدوین کړی دی.

ما هم د دغې مرتب دیوان د نورو خطي نسخـو د موندنې په اړه؛ پـه کـابـل کـې د یـوې چـور شـوې کتابخانې د چور شوو خطي نسخو فـهـرسـت (زلمی هېوادمل)، په هند کـې د پـښـتـو د خـطـي نسخـو فهرست (زلمی هېوادمل)، د حبیب الله رفیع په زیـار د خطي نسخو فهرست، د بریتانیا کتابتونونـو کـې د پښتو قلمي نسخو پېژندنه (شـهـسـوار سـنـګـروال)، فهرست مخطوطات (سلمی شاهین)، د افغانستان د علومو اکاډمي پښتو خـطـي نسخـې (شریـف الـلـه دوسـت)، د داتـا ګـنـج بـخـش خـطـي نسخـې (عبدالرحمن حبیب زوی) او څینې نـورې سرچـیـنـې وپلټلې؛ خو د میرعلي د دېوان د خطي نسخې په پیدا کولو بریالی نه شوم، ښایي پر دغه مرتب شوي دېوان سربېره نورې خطي نسخې و نه لري او یا کېدای شي نورې خطي نسخې یې د زمـانـې مـتـروکـو بـادونـو د اسمان لمنو ته سپارلې وي چې اوس یـې پـیـدا کـول ناشوني دي.

په هر حال د میر علي دغه دیوان لـه نـقـل(فـرع) نسخې څخه تـرتـیـب شـوی چـې د خـطـاط، ورځ، میاشت، کال او نورو څانګړنو سپړنه پـه کـې نـه ده شوې او یا هم دغه څانګړنې د مدون له قـلـمـه پـاتـې شوې دي.

د خطي نسخې له مخې بله خبره چې مـدون ورتـه متوجه شوی او د دیوان په مقدمه کې یې ورته اشاره کړې ده، د نسخې د کمیت او کیفـیـت بـحـث دی د دېوان په سریـزه کـې کـښـل شـوي دي: ((...داسـې معلومېږي چې د هغه اولنۍ نسخې لومړنی پاڼې دې شلېدلې وي، څکه چې د نقل بسم الله یې د میر علي د(ث) د ردیف د وروستی غزلې څخه کړې ده...))(۱: ۶مخ) نسخه پېژندونکي دغه ډول نسخې چې لومړۍ برخه یې ضایع شوې یا نـیـمـګـړې وي نـاقـص الاول بولي، دا دیوان هم له همدغسې ناقص الاول نـقـل نسخې څخه مدون ترتیب کړی دی چې د دغې خامې یادونه مدون په پوره مهارت سره کـړې، د شـعـر او ادب مینه‌وال یې په کټوې کـې د څـیـنـو پـاتـي شـوو کوچو څخه خبر کړي دي چې د ده لاس تـه نـه دي ورغلي چې مینه والو ته یـې ورسـوي. دلـتـه یـو بـل اختلاف هم تر سترګو کېږي، هغه دا چـې دا چـاپـي دیوان له الف ردیف څخه پیل شوی؛ خـو پـه پـورتـه متن کې مدون د لومړۍ خطي نسخې ردیف لـه (ث) څخه پیل ګڼي، مدون په دې اړه هم سپیناوی نـه دی کړی چې څرنګه دا دیوان له الف ردیـف څـخـه پـیـل شوی دی؟

مدون د شاعر د پېژندنې په بـرخـه کـې د داخـلـي منابعو په استناد شاعر راپېژني او د شاعر په باب پـه خارجي سرچینو کې د معلوماتو پـه نـه مـوجـودیـت اعتراف کوي، د یو بیت له مخې میرعـلـي انـدړ ګـڼـي چې د غزني ولایت د مقر ولسوالی اصلي اوسېدونکی دی. ما هم د میرعلي په اړه د (پښتانـه شـعـرا) ټـول ټوکونه او څینې نورې هغه ادبي تذکرې او آثار وپلټـل چې د دې دیوان په حدودو کې خپاره شوي وو؛ خـو په دغو آثارو کې د میرعلي څرک نه و، داچې د شاعر په اړه نورې سرچینې نه شته، مدون هـم د دېـوان د داخلي معلوماتو له مخې د شاعر ټاټوبی، قبیله او د ژوند زمانه لنډه، تنګه او له حالاتو سره مناسبه ذکـر کړې ده او له څېړنیزو اصولو سره سم یې پرې خپلـې زیاتونې هم کړې دي، پر پېژندنې سربېره یـې د متن څېړنې د ارونو پر بنسټ د شاعر سبک هـم مـعـرفـي کړی چې د نوموړي شاعر ژبه او اسلوب خـورا سـاده او روان دی او د رحمان بابا د سبک لاروی دی؛ خو ما یې چې شعرونه ولوستل تـر ډېـره پـرې د عـربـي او پارسي ژبې اغېزې پرتې دي او محتویات یې د دغو ژبو له وییونو مالامال دي چې بېلګې بـه یـې وروسـتـه د کړکېچنو وییونو په برخه کې راوړو. دلـتـه یـوه بـلـه یادونه اړینه ګڼم. ما دغه دیوان استاد حـبـیـب الـلـه رفیع ته وښوده، هغه یې شعرونه له مخې تېـر کـړل او یو ولسي شاعر یې وګاڼه، خو دا یې هم وویل چـې څینې شعرونه یې د رحمان بابا لاره تـعـقـیـبـوي.(۳: مرکه) خو د دیوان لـه مـنـځـپـانـګـې او شـعـرونـو څرګندېږي چې ډېر کم او آن یـو یـا دوه څـایـه یـې داسې نظمونه شته چې په ولسي او مـلـي وزن ویـل شوي وي، پاتې ډېر شعرونه یې د شرقي شاعرۍ لـه لمنې، نه وځي او د رحمان بابا د سبک قوي اغېزې په کې له ورایه څلېږي.

همدارنګه متني نقاد د شاعر د ژبې او وینا طرز پـه اړه هم لنډې خبرې کړې او د شـاعـر لـیـدلـوری یـې روښانه کړی دی، د دېوان لـه شـاعـر سره یـې د هم‌مهاله مشهور شاعر توکل یادونه هم کړې چـې د هېواد په ختیځ کونړ او ننـګـرهـار کـې هـاغـه مـهـال مشهور شاعر و او ۱۲۵۰ هـ ق په شاوخـوا کـې یـې ژوند کاوه. د شاعر په فکر او هنر یې هم رڼا اچـولـې ده؛ خو څرنګه چې لازمه وه، هغسې یـې پـه پـوره پیمانه فکر او هنر نه دی تمثیل شـوی، هـمـدارنـګـه شاعر څانته کارولي ډول ډول نومونه او تـخـلـصـونـه (میرعلي، میرعلي فقیر، میرعلي ګـدا، مـیـرا) یـې د داخلي شهادتونو پر بنسټ تشریح او جوت کـړي دي او په دې برخه کې یـې د نـورو هـم‌نـامـو شـاعـرانـو مشکوک اړخونه هم سپړلي دي، په ټولیز ډول ویلای شو چې د دیوان مقدمه په ډېرو بـرخـو کـې د متن څېړنې له بنسټونو سره سمه ده؛ خو په څـیـنـو لـږو برخو کې له دغو ارونو سره پوره اړخ نه لـګـوي او د دودیزو مقدمو په پیروی د مدون په خـپـلـه خـوښـه لیکل شوې مقدمه تمثیلوي.

د دغو ټولو نیمګړوتیاوو او بشپړتیاوو سره- سره د مدون خپل متن هم ګڼې املایي تېروتـنـې لـري، د بېلګې په ډول پښتو یاګانو ته یې پاملرنه نه ده کـړې، د مروجې (ړ) لپاره یې(ڼ) توری ټاکلی یعنې اندړ یې د اندڼ په ډول ثبت کړی، همدارنګه (وو) یې د مفرد او جمع لپاره په همدغه یو شکل راوړی دی.

مدون د متن په کره او ناکره اړخـونـو، کـړکـیـچـنـو وییونو، لمنلیکونو، ویيپانګې، تعلیقاتو، سمون لـیـک او نورو اړخونو ته څای نه دی ورکړی، په متن کـې د دغو موارد راوړل او څایول د معاصرې متن څـېـړنـې اصول په ډاګه کوي. همدارنګه د شاعر په مـتـن کـې غیر ارادي نـاسـمـي هـم ډېـرې لـېـدل کـېـږي چـې لوستونکي د شعر په لوستو کې له څنډ او خنډ سره مخامخ کوي او د شعر رنګ او خوند له منځـه وړي، پکار وه چې د څینو لفظونو د اجزاوو تر منځ فاصلـه ورکړل شوې وای چې په دې سره د تېروتنو مخه نیول کېده؛ لکه ((میرا فقیردی په سپین مخ بـانـدې شـیـد ادلربا)) چې تر ډېر غور وروستـه لـوسـتـونـکـی پـرې پوهېدای شي، همداسې غیر ارادي ناسمـو یـې ټـول دېوان نیولی چې لوستل یې خـونـده کـوي.(۴: ۱۰۱ مخ)

په متن کې ډېر کړکیچن او د عامو تر سـویـې لـوړ لغات هم راغلي چې معنا کولو ته یې اړتیا وه، د دغو وییونو په لړ کې یې ډېر عربي، پارسي او لږه برخـه د پښتو سوچه لغتونه دي چې پرې پوهېدل اړیـن دي، دلته یو څو لغتونه د دې لپاره را اخلو چـې لـه یـوې خوا په متن کې د عربي او پارسي ژبو اثـرات روښـانـه شي او له بلې خوا د هغوی د معنا او حـلـولـو اړتـیـا څرګنده کړي: (الغیاث، حائض، فائض، نمط، چاک، افلاک، زنوبه،خناس، سراج، خرامان، مژګان، نـمـد، غرقاب، فراغ، سیراب، فرخـنـده، رخـسـار، شـتـاب، ایام، قاصر، خرامان، خروڼی، ګبر...) په متن کـې د ډېرو دغسې وییونو معناوو ته اړتیا وه چې د دېوان په پای کې د ویيپانګې تر سرلیک لاندې یا هم د هـر مـخ په لمنلیک کې یې معنا ښودل شوې وای، دې چـارې د لوستونکو ستونزې کمولې، اسانتیاوې یې رامنځـتـه کولې او د دېوان ارزښت یې لوړاوه.

همدارنګه په متن کې څینې نومونه هم راغلي چـې په حاشیو یا لمن لیکونو کې توضیح د مـدون کـار لا غوره کاوه؛ لکه سکندر، قلندر، آغا صـاحـب ګـیـسـو دراز، محمود او ایاز، یوسف، د کـشـمـیـر تـخـت او داسې نور چې لنډو شرحو یې د متن څېړونکي کار او زیار ته څواکمنتیا او څلا وربښله. مـدون دغـه ډول ارونو ته پام نه دی کړی په ټوله کې متن څېړونـکـي د متن څېړنې دغه ډول اصول په پام کې نه دي نـیـولي چې د لوستونکو له سترګو د شک پـردې لـرې کـړي، یوازې یې دېوان له مقدمې سره له یوې نقـل نـسـخـې (فرع) څخه تدوین کړی او ټولنې ته یې وړاندې کـړی دی.

**پایله:** کله چې ما د میر علي د دېوان په پښتـۍ د (ټولونه او څېړنه) کلمې ولیدې، له څان سره مې یـوه فرضیه جوړه کړه چې دغه دیوان به د متن څېړنې لـه معاصرو روشونو او معیارونو سره سم مدون بیا احیا (تهیه) کړی او چاپ کړی وي؛ خو کله چې مې سریزه او د دېوان جوله او منځپانګه ولوسته، نو دې پـایـلـې ته ورسېدم:

د دېوان مقدمه که څه هم څېړنیزه ده، خو د مـتـن څېړنې له مخې ډېرو پوښتنو ته بشپړ څواب نه وایـي او په څینو برخو کې نیمګړې ده. نـور ټـول دېـوان د متني څېړنو له ارونو پرته تصحیح شوی دی او نابشپړ تحقیقي متن یې ګڼلی شو، څکه تحقیقي متن هغـه وي چې له یوې یا څو خطي نسخو څـخـه د مـتـن د تحقیق د اصولو پر بنسټ د متن د تـصـحـیـح لـه یـو روش سره سم تهیه شوی وي، مـقـدمـه، حـواشـې، ویيپانګه او که لازم وي تعلیـقـات ولـري. خـو دغـه دېوان له مقدمې پرته د متنپوهنې له اصولو سره سم تدوین شوی نه دی، په اصلي متن کې لمـنـلـیـکـونـو، حواشیو او د کړکیچنو وییونو حـل تـه څـای نـه دی ورکړل شوی. خـو پـر دغـو ټـولـو نـیـمـګـړتـیـاوو او نابشپړتیاوو سربېره یې د پښـتـو ادب پـه فـرهـنـګـي بډاینه کې د ارزښت وړ زیاتونه ګڼم.

**مأخذونه:**

۱. میرعلي، دېوان، د عبدالروف خان رفیقي په زیار، حبیبي اکاډمي چمن: لاهور،۱۳۸٦ ل کال.
۲. هېوادمل، زلمی. د ماسترۍ دورې لـکـچـر نـوټ:کـابـل پوهنتون، ۱۳۹۷ل کال.
۳. رفیع، حبیب الله. د افغانسـتـان د عـلـومـو اکـاډمـي مشاور، ۷۵ کلن، پښتو ادبیاتو استاد او څـېـړونـکـی، د میرعلي د ژوند، فن او شاعرۍ په اړه څېـړنـه، حـمـایـت الله ښاد، کابل، علومو اکاډمي، ۷/۷/۱۳۹۹ ل کال.
۴. هېوادمل، زلمی. د متن څېړنې مـیـتـودلـوژي، دانـش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹٦ ل. ل کال.

## په تهران کې د علامه عبدالحي...

ده علامه حبیبي د افغانستان نومیالی وبـالـه او د هغه څېړنیزو کارونو ته یې په اشارې سره وویل چـې علامه حبیبي د سیمې او افـغـانـسـتـان لـومـړنـی او پیاوړی پوهاند و.

دغه راز لـه اکـسـفـورډ پـوهـنـتـون څـخـه خـتـیـځ پېژندونکي پروفیسور ادموند هرتزیګ، د افغانسـتـان د علومو اکاډمۍ غړي څېړنوال حبیب الـلـه رفـیـع، دکتور عبدالرؤف رفیقي او د کابل ښاروالۍ مرستیال او د علومو اکاډمۍ مخکیني غړي څـېـړنـوال فـاضـل شریفي خپلې خبرې په ثبت شوې بڼه دغو مـراسـمـو ته رالېږلې وې او د علامه عبدالحي حبیبي د نمانځلو له امله یې له ایکو کلتوري مؤسسې مننه وکـړه او د افغانستان او نورو هېوادونو پر ادبیاتو او افکارو یې د ښاغلي حبیبي د آثارو پر اغېزو خبرې وکړې.

# زېرې

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د ۱۴۰۰ ل.کال د چنګاښ- زمری میاشتې | ۷- ۱۰مه ګنه | پرله پسې ۳۷۵- ۳۷۸مه ګنه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارګان

**مسئول مدير:** څېړندوی احسان الحق کبير

**مهتممه:** څېړنياره شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير،
څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.

**د اړيکي شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښناليک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو
مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک



څېړنوال محمد آصف احمدزی

## "پښتو شاعرۍ ته د عربي او فارسي نه راغلي اصناف" ډيزرټېشن دفاع شو

ليکوال او څېړونکي محمد داود عربزي په پېښور پوهنتون پښتو اکاډمي کې د دکتورا له ډيزرټېشن څخه د چنګاښ پر ۴مه نېټه بريالی دفاع وکړه.



د هغه موضوع "پښتو شاعرۍ ته د عربي او فارسي نه راغلي اصناف- يوه تحقيقي او تنقيدي جايزه" وه چې لارښود استاد يې ډاکټر نورمحمد دانش بيټنی و.

## په بيجينګ کې د افغانستان فرهنګي خونه پرانيستل شوه

د چين په پلازمېنه بيجينګ کې د افغانستان اسلامی جمهوري دولت په سفارت کې د افغانستان فرهنګي خونه د چنګاښ پر ۲مه پرانيستل شوه.



افغان سفير جاويد قايم په دې غونډه کې وويل: په دې فرهنګي خونه کې د افغانستان او چين ترمنځ تاريخي اړيکو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده او هغه اسناد او عکسونه ننداري ته اېښودل شوي دي چې د دغو تاريخي اړيکو ښکارندويي کوي؛ د بېلګې په توګه احمدشاه بابا د چين د هغه مهال واکمن ته د دوستۍ د ښه نيت په موخه آسونه د ډالۍ په توګه استولي وو.

## په تهران کې د علامه عبدالحي حبيبي نمانځغونډه جوړه شوه

د ايکو کلتوري مؤسسې په نوښت او په ايران کې د افغانستان سفارت په همکارۍ د نوميالي افغان اديب، مصحح، مؤرخ او څېړونکي علامه استاد عبدالحي حبيبي د درناوي مراسم د دوشنبې په ماښام د ۱۴۰۰ لمريز کال د چنګاښ پر ۱۴مه نېټه په ايکو کلتوري مؤسسه کې تر سره شول.

په دغو مراسمو کې د ايکو کلتوري مؤسسې رئيس سرور بختي، په تهران کې د افغانستان اسلامي جمهوريت لوی سفير او ځانګړي استازي څېړنوال عبدالغفور لېوال، د اسلامي دايرة المعارف ستر مرکز د عالي شورا غړي علي مير انصاري او د تهران پوهنتون استاد او د فرهنګستان د فارسي ژبې او ادب غړي ډاکټر علي رواقي ويناوې وکړې.



د مراسمو په پيل کې ښاغلي بختي وويل، موږ د ايکو غړي هېوادونه په علامه عبدالحي حبيبي وياړو او نن د دې لپاره سره يو ځای شوي يو چې د نوموړي د شخصيت، آثارو، افکارو او خدماتو په اړه وغږېږو.

ده زياته کړه چې علامه حبيبي د ايکو غړو هېوادونو او نړۍ لپاره ارزښتناکه آثار پرېښي دي چې نن د څو لسيزو په تېرېدو سره هم څېړونکي او پوهان د هغه له آثارو د معتبرو مراجعو په توګه په پراخه کچه استفاده کوي.

ډاکټر علي رواقي وويل، د فارسي متن په کار کې استاد حبيبي يو له سترو استادانو څخه دی. ده د علامه حبيبي له خوا په ۱۳۴۲ل کال کې د طبقات الصوفيه د کتاب تصحيح ته په اشارې څرګنده کړه، دا کتاب د ژبې له مخې په فارسي کې يو له ډېرو سختو کتابونو څخه دی. سره له دې چې يو دوه ځلې چاپ شوی، خو اوس هم په دې کتاب کې ډېرې ستونزې شته. خو هماغه لومړني چاپ کې چې علامه حبيبي ۱۳۴۲ل کې کوم کار کړی، شاوخوا ۱۰۰ پاڼو کې يې د دې کتاب لغتونه توضيح کړي او په داسې دقت او حوصله يې دا څېړنه کړې چې ماته د فارسي متونو د يوه څېړونکي په توګه ډېره د حيرانۍ خبره ده.

استاد رواقي وويل: ((سره له دې چې د هغه (د علامه حبيبي) اصلي ژبه پښتو وه او په دې ژبه کې يې پراخې څېړنې کړې، خو په فارسي کې يې هم په شوق او دقت ډېر زيات کار کړی. په داسې ډول چې دې دقت ته يې ښخي حيران شوم. د طبقات الصوفيه په توضيحاتو کې چې يې ۱۰۰ پاڼې ليکلي، له نورو هغو ټولو متونو څخه ډېرې دي چې تر هغه وخته چاپ شوي او دا په هغه وخت کې د يوه څېړونکي لپاره ډېر سخت کار و.))

ډاکټر علي مير انصاري، د دې ناستې يو بل ګډونوال و چې د علامه حبيبي شخصيت او ځانګړنو ته يې په اشارې وويل: ((عبدالحی حبيبي يو فوق العاده شخصيت و چې د هغې فرهنګي مطالعې او پوهې په مرسته چې درلوده يې، داسې کارونه يې وکړل چې زه ورته علمي جرئت وايم. دا علمي جرئت، په هغه وخت کې پرته له حبيبي، نه په افغانستان کې چا درلود او نه په ايران کې. علامه حبيبي چې کوم ۸ کتابونه تصحيح کړي، دا د هر چا د وس کار نه دی او نوموړی د افغانستان، ايران او تاجکستان د فارسي ژبو په تاريخ او فرهنګ کې يوه استثنايي څېره وه.))

نوموړي زياته کړه: ((کوم متون چې علامه حبيبي ۵۰ کاله مخکې تصحيح کړي، اوس هم د پوره اعتبار وړ دي او په داسې انداز يې تصحيح کړي چې حتی اوس هم ورته څوک بيا کتنه نه شي کولای. موږ نه شو کولای دغو متونو ته بيا له سره کتنه وکړو او نه ځان ته د دې اجازه ورکوو. بايد د حبيبي په همدې کار اکتفاء وکړو او دا څکه چې هغه لومړۍ درجه کارونه دي.))

له هغې وروسته څېړنوال عبدالغفور لېوال په خپلو خبرو کې د ايکو کلتوري مؤسسې له مشرتابه او همکارانو د علامه عبدالحي حبيبي د نمانځلو له امله مننه وکړه او زياته يې کړه، د خوښۍ ځای دی چې نن د نړۍ او ايراني پوهانو له خوا د علامه عبدالحي حبيبي د علمي خدمتونو په اړه خبرې کېږي.

نوموړي د علامه حبيبي د شخصيت په ځينو ځانګړنو خبرې وکړې او زياته يې کړه چې پوهاند حبيبي نقد او کره کتنې ته ډېر ژمن و او هر وخت به د خپلو آثارو د کره کولو په لټه کې و.**۳مخ**

## طلوع افغان سل کلن شو

په کندهار پوهنتون کې د طلوع افغان ورځپاڼې سلمه کاليزه د چنګاښ پر ۱۵مه ونمانځل شوه.

له نن څخه پوره سل کاله تر مخه د ۱۳۰۰هـ. ش کال د چنګاښ مياشتې پر ۱۵مه نېټه د لومړي ځل لپاره په کندهار کې د طلوع افغان په نامه اونيزه د مولوي صالح محمد هوتک په مسئول مديريت چاپ او خپره شوه.

طلوع افغان اخبار اول کال د هرې چهارشنبې پر ورځ له چاپه راوت، خو دا چې مولوی صالح محمد په کندهار کې د ښوونې او روزنې په کارونو ډېر بوخت و، نو د طلوع افغان اخبار چارې يې خپل نږدې مطبوعاتي دوست (بابا عبدالعزيز) ته چې اصلي نوم يې عبدالعزيز الکوزی و، ور وسپارلې.



بابا عبدالعزيز د ۱۳۰۱هـ. ش کال په وري مياشت کې د طلوع افغان مسئول مدير شو. نوموړي د اخبار د چاپ ورځ د چهارشنبې پرځای د اونۍ لومړۍ ورځې (شنبې) ته واړوله. هغه تر دې وړاندې په کابل کې د ماشين خانې په مطبعه کې د خطاطۍ او تصحيح مسلکي کس و. بابا تر ۱۳۰۹ کال پورې د طلوع افغان مسئول مدير و.

په هغه وخت کې د طلوع افغان کليشه داسې جوړه شوې وه: د طلوع افغان تر نامه لاندې د غنمو وږي د هغه تر شا د لمر وړانګې، لاندې دوې تورې د چليپا په شکل ليدل کېدې.

په اول سر کې د طلوع افغان ډېره برخه دري او لږ پښتو مضامين يې چاپول، خو په (۱۳۱۰ل) کال کې چې لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبيبي د اخبار مسئول مدير شو، نو د ځينو کسانو په غوښتنه يې په يو کال کې ټول اخبار له دې کبله پښتو ژبې ته واړاوه چې په کندهار کې غټ اکثريت پښتانه دي.

طلوع افغان د پښتو ژورناليزم په تاريخ کې لومړی دولتي اخبار دی چې په بشپړه توګه په ملي ژبه (پښتو) چاپېده.

ياد اخبار د سلو کالو په اوږدو کې ډېرې لوړې ژورې ليدلي، خو له نېکه مرغه د ډله‌ييزې ميډيا په دې چټک ميدان کې لا هم خپل ځانګړي لوستونکي لري، چې اوس هره اونۍ بې له ځنډه دوه واره د لوستونکو تر لاسونو ور رسيږي.

طلوع افغان په هره ګڼه کې پر ادبي، انتقادي او سياسي تبصرو سربېره خبرونه، تاريخي او مطبوعاتي ليکنې، خبرتياوې او نور مهم مطالب خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي.

## د پښتو داستاني ادب سرلاری ليکوال نصير احمد احمدي د ژوند له قافلې بېل شو

د پښتو ژبې د داستاني ادب سرلاری ليکوال نصير احمد احمدي د ۱۴۰۰هـ. ش د چنګاښ پر ۱۹مه د يکشنبې په ماخوستن د ۴۷ کالو په عمر د کرونا ناروغۍ له امله له دې نړۍ سترګې پټې کړې.

دی له تېرې يوې مياشتې راهيسې ناروغه او په روغتون کې بستر و.



ګڼو چارواکو، سياستوالو، ليکوالو، اديبانو، شاعرانو او مينه والو د هغه پر مړينه خواشيني څرګنده کړې او د پښتو داستاني ادبياتو لپاره يې ستره ضايعه ګڼلې ده.

نوموړی د غزني ولايت د قره باغ ولسوالي اوسېدونکی و چې تر ۲۵ پورې کتابونه يې ليکلي چې ډېری يې داستاني او ناولونه دي. د ځينو نومونه دا دي:

سره سيلۍ، مينه، د واورې سړی د لنډو کيسو ټولګې.

بوډا او د لېوانو پلونه، رڼا، بوربوکی، يوه خبره درته وکم؟!، اغزن سيم، جوجو، خونکار، زړو، نيکه... يې ناولونه دي.

نصيراحمد احمدي له ۲۰۰۳ کال را په دېخوا د بي بي سي راډيو په ښوونيزه پروژه کې دنده تر سره کوله، په پيل کې يې په نوموړې اداري کې د رپورټر او له تېرو شپږو کلونو راپه دېخوا د ماشومانو او لويانو لپاره د فيچر خپرونو ايډېټر و.

## "تفسير القمري" وليکل شو

په پښتو ژبه لوی تفسير (تفسير القمري ) د هېواد د جيد عالم او د امام ابو يوسف او نجم المدارس عالي دارالعلوم استاد شيخ القرآن و الحديث سيد حکيم قمري ليکلی دی.



دا تفسير په ۳۰ جلده او نږدې لس زره مخونو کې د دوو کلونو په موده کې بشپړ شوی دی.

## «ښکلا» مجله بيا پيل شوه

«ښکلا» مجله د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۱هـ. ش کال کې په کندهار کې چاپ شوه چې په شپږو کلونو کې يې ۳۸ ګڼې چاپ شوې او ډېر مينه وال يې ور خپل کړي وو.



تر شپږو کلونو وروسته د دې مجلې خپرېدل بند شول؛ خو دا دی له اوږده ځنډ وروسته، دا مجله بيا پيل شوه او لومړنۍ ګڼه يې په کابل کې چاپ شوه.

## مشهور سندرغاړی استاد ايوب وفات شو

د خوږې حنجرې څښتن د پښتو ژبې مشهور سندرغاړی استاد ايوب د وريېښې ناروغۍ له امله د ۱۴۰۰هـ. ش کال د زمري پر پنځمه له دې نړۍ سترګې پټې کړې. دی له اوږدې مودې راهيسې ناجوړه و.



اوب استاد په سندرو کې ځانګړی سبک لاره او خلکو د ده سندرې په ډېره مينه اورېدې.

"ای عشقه نامراده تا څه په غمو سر کړم" او "لېونۍ مينې کړم آشنا له بيابانه سره" د استاد ايوب مشهورې سندرې دي چې تر اوسه د هنر موسيقۍ د مينه والو په غوږونو کې انګازې کوي. د هېواد ګڼو هنرمندانو د ده سندرې بيا بيا ويلې دي.

## يونسکو د افغانستان درې ناملموس فرهنګي ميراثونه ثبت کړل

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په هڅو د ملګرو ملتونو ښوونيزې، علمي او فرهنګې اداري (يونسکو) د افغانستان په غوښتنه درې ناملموس فرهنګي ميراثونه د ثبت لپاره ومنل.



اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د بهرنيو چارو وزارت له لوري په استول شوي ليک کې د درېوو فرهنګي ناملموسو ميراثونو د منلو په تړاو ويل شوي چې دا درې آثاره په لاندې ډول په ۲۰۲۲ کال کې د ثبت لپاره منل شوي دي:

۱ . د ميناتورۍ هنر د بهزاد سبک د افغانستان په نوم په خپلواکه توګه؛

۲ . د وريښمو د توليد او روزنې صنعت افغانستان له آذربايجان، ايران، ترکيې، ترکمنستان او ازبکستان سره په ګډه؛

۳ . يلدا شپه (چلې شپه) له ايران سره په ګډه.

## عبدالله عاطفي ووژل شو

شاعر، مؤرخ او علمي شخصيت انجنير عبدالله عاطفي د ۱۴۰۰هـ. ش کال د زمري پر ۱۳مه د شپې مهال د ناپېژاندو وسله والو له خوا د اروزګان ولايت په چورې ولسوالۍ کې ووژل شو.

اروابناد عاطفي د هېواد د تاريخ، شعر او ادبياتو په برخه کې د پام وړ او مُهم آثار ليکلي او پنځولي وو چې ((شرق سلطانان لرغوني پښتانه عبريان)) يې په ۱۳۰۰ پاڼو کې تاريخي څېړنه او ((يون)) يې د شعري ټولګو له جملې چاپ شوي دي. نوموړي دغه راز د عبرت په نامه د يوې چاپي رسنۍ بنسټ ايښی و.



ده په اقتصاد او انجنيرۍ کې دوې ماسترۍ په اروپا کې کړې وې. شايد د چورې په ليرې پرتې او له ليک لوسته محرومه ولسوالۍ کې يواځينی دومره لوستی کس و.

## نوي چاپ شوي آثار

**د رحمان بابا او حميد مومند په آثارو کې متلونه او اصطلاحات:** دغه اثر څېړنوال مجاور احمد مومند ليکلی او د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا په ۲۸۹ مخونو کې چاپ شوی دی. اثر شپږ څپرکي لري چې د متل او اصطلاح په هکله هر اړخيز بحثونه را نغاړي. د دې اثر منځپانګه د رحمان بابا او حميد مومند په آثارو کې پر متلونو، اصطلاحاتو، د دوی پر سبک، په شعرونو کې د متل او اصطلاح د استعمال اړتيا پر محور راڅرخي.



**مير علي شېر نوايي:** د «وي. وي. بارتولد»اثر دی چې له روسي ژبې څخه انګرېزي ته ولاديمير مينورسکي او له همدې ژبې څخه پښتو ته سيد اسماعيل حسيني فاطمي ژباړلی دی.



اثر (۵+ ۱۰۰ =۱۰۵) مخونه لري چې د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا چاپ شوی دی.